څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او یا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: "څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او یا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د فرض یا نفلي روژې پر مهال په هېره سره خوراک او څښاک وکړي نو خپله روژه دې پوره کړي او روژه دې نه ماتوي، ځکه چې هغه د روژې د ماتولو اراده نه وه کړې، بلکې دا هغه روزي وه چې الله تعالی یې نصیب کړه، نو خوراک او څښاک یې ورکړل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4525